# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانيستي داوطلبي

**پروژه: : د افغانستان د تادياتو سيستم آمريت لپاره د يو پايه يو پی اس چمتو او نصبول**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1401/NCB/G18**

۱. د افغانستان بانک رياست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شويو وجوهو يوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1401/NCB/G18** داخلي پرانيستي داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمريت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرايطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحويلی د جدول مطابق**} ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستي پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستې ده.

۵. په شرايطو برابر ټول ليوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (abdulhayee.saeed@dab.gov.af) بريښناليک او يا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه بايد لاندې پتې ته د ماسپښين له {02:00} بجو نه مخکې 1401/04/29 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه بايد د آفر د تضمين د لانديني مبلغ سره يوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين / نغدی

**۸. د آفر د تضمين مبلغ 40,000/څلويښت زره افغانۍ**

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. يعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1401/04/29 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې يا د تمديد شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمديد شويو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵،۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوي کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکارووندوی وي.

2- د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکارووندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **تولیز ارزښت (:/ 500,000- پنځه سوه زره افغانی**

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمی د وروستی نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

**نوټ: د داوطلبی د مخه ناسته: 1401/04/14 نیټه د ماسپښین له {00:02} بجو د تدارکاتو لوی آمریت کی دایریږی.**